WNNS کمال، روح الله. (۱۴۰۵). د وردګ پوهنتون د طبیعي علومو څېړنیز ژورنال، ۵ (۱): ۱۵۹-۱۷۸

څېړنیزه

آزاده لاسرسی

# د وردګ ولایت په سید اباد ولسوالی کې د مالداری د وضعیت ارزونه

پوهندوی روح الله کمال[1*]، وحدت الله احمدی (فارغ التحصیل-زده کړیال)[2]
۱ـ حیواني علومو څانګه، کرنې پوهنځي، غزني پوهنتون ، غزني، افغانستان
۲ – کرنېز اقتصاد او پراختیا څانګه، کرنې پوهنځي، غزني پوهنتون ، غزني، افغانستان

**لنډیز**

دا څېړنه د وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې د مالدارۍ او لبنیاتو د وضعیت د ارزونې په موخه ترسره شوې ده. څېړنه د پنځو کلیو (سالار، تره‌خېل، ملي‌خېل، حسن‌خېل او پټان‌خېل) په کچه د ۱۶۰ مالدارانو له ګډون سره د پوښتنپاڼو او مخامخ مرکو له لارې ترسره شوې ده. راټول شوي معلومات د Excel او SPSS (نسخه ٢٤) په وسیله تحلیل شوي دي. پایلې ښيي چې د څېړنې په ساحه کې د کورنیو د غړو منځنۍ کچه ۱۱.۴ تنه ده، په داسې حال کې چې د کورنیو منځنۍ میاشتنۍ عاید ۲۱۰۵٦ افغانۍ او منځنۍ مصرف ۱٦۰۸۲ افغانۍ ثبت شوی، چې دا د اقتصادي فشار څرګندونه کوي. د پایلو له مخې، تر ۸۰ سلنه زیات ګډون کوونکي په مستقیم یا غیرمستقیم ډول په کرنه او مالدارۍ بوخت دي، خو د دودیزو روزنیزو سیستمونو له امله یې تولیدي ظرفیت محدود پاتې شوی دی. غواګانې او چرګان د مالدارۍ تر ټولو عام څاروي دي، او شیدې، غوښه او هګۍ د حیواني محصولاتو اصلي برخې جوړوي. همدارنګه مالداران د کشمیرې د تولید بالقوه وړتیا نلري. د بازار موندنې په برخه کې، تر ۹۰ سلنه زیات ګډون کوونکي خپل لبني محصولات په غیر رسمي ډول بازار ته وړاندې کوي او منظم قیمت، معیارونه او د پروسس اسانتیاوې شتون نه لري. څېړنه دا پایله اخلي چې د مسلکي روزنې، حیواني روغتیا خدماتو پیاوړتیا، د لبنیاتو د پروسس او د منظم بازار موندنې سیستم رامنځته کول کولای شي د سیدآباد ولسوالۍ د مالدارۍ سکتور د عاید لوړولو، غذايي امنیت پیاوړتیا او د صادراتو د پراختیا لپاره مهم بنسټ برابر کړي.

**کلیدي کلمې:** سیداباد ولسوالی؛ مالداري؛ تولیدات؛ اقتصادی ارزونه.

**د مقالې تاریخچه:**
د مقالې ترلاسه کولو نېټه: ۱۳/دلو/۱۴۰۴
د مقالې منلو نېټه: ۱۸/حوت/۱۴۰۴
د مقالې خپرولو نېټه: ۱۴/اسد/۱۴۰۵

**ددې مقالې استناد:**
کمال، روح الله او همکاران (۱۴۰۵). د وردګ ولایت په سید اباد ولسوالی کې د مالداری د وضعیت ارزونه.
وردګ علمي څېړنیزه مجله ۵ (۱):۱۵۹-۱۷۸

دغه ژورنال د وردګ پوهنتون په چوکاټ کې د لوړو زدکړو وزارت د رسمي جواز پر اساس فعالیت کوي.
CC BY
وردګ پوهنتون علمي څېړنیز نشرات (۱۴۰۵).

زموږ سره اړیکی: ۰۹۳۷۴۵٦۰٦۳۱۷+
ایمیل: rjd@wu.edu.af
**آدرس:** سیدآباد ولسوالی، ټوپ دښته میدان وردګ ولایت- افغانستان

آزاده لاسرسی

څېړنیزه

# Assessment of the Livestock Production Status in Saydabad District of Wardak Province

Assistant Propisor Rohullah Kamal[1*], Wahdatullah Ahmadi[2]

1- Department of Animal Science, faculty of Agriculture, Ghazni University
2- Department of Agricultural Ecnomics and Extension, faculty of Agriculture, Ghazni University

**Article History:**
Received: 02. Feb.2026
Accepted: 09. Mar.2026
Online First: 05. Aug.2026

**Citation:**
Rohullah K. (2026). Assessment of the Livestock Production Status in Saydabad District of Wardak Province. Articles to WNNS. *Wardek J of Soc Sci* 2026; 5 (1):159-178

Email: rjd@wu.edu.af
This is an open access article under the Higher Education license

**Copyright**:© 2026 Published by Wardak Universty.

## Abstract

Wardak Province. The research was carried out in five villages (Salar, Tarakhail, Mili Khail, Hasan Khail, and Patan Khail) with the participation of 160 livestock farmers using questionnaires and face-to-face interviews. The collected data were analyzed using Excel and SPSS (version 24). The results indicate that the average household size in the study area is 11.4 persons, while the average monthly household income and expenditure were recorded as AFN 21,056 and AFN 16,082, respectively, reflecting economic pressure. According to the findings, more than 80% of the respondents are directly or indirectly engaged in agriculture and livestock activities; however, their productive capacity remains limited due to traditional production systems. Cattle and poultry are the most common livestock species, and milk, meat, and eggs constitute the main livestock products. Furthermore, livestock farmers do not have the potential for cashmere production. In terms of marketing, more than 90% of the respondents sell their dairy products through informal markets, and there is a lack of organized pricing systems, standards, and processing facilities. The study concludes that strengthening professional training, improving animal health services, establishing dairy processing facilities, and developing an organized marketing system could provide an important foundation for increasing income, enhancing food security, and expanding exports in the livestock sector of Saydabad District.

**Keywords:** Saydabad District; Livestock; Production; Economic Assessmen

څېړنيزه

آزاده لاسرسی

## سريزه

له څرنګه چې افغانستان يو کرنيز هېواد دی او شاوخوا ۸۰ سلنه وګړي يې په کرنه او مالدارۍ بوخت دي. او اکثريت وګړي يې په کليو کې اوسيږي ( Sarhadi et al.، ۲۰۱۴). د افغانستان مختلفې سيمې او ولسوالۍ له اقليمي نظره يو دبل سره توپيرونه لري، له همدې امله هر ډول حيوانات او نباتات په مختلفو ولايتونو کې روزل او پالل کيږي. نوموړې ځانګړنه د کرنې له نظره خورا ارزښت لري، ځکه چې کرنيز نباتات د تودوخې په بېلابېلو درجو کې وده کوي. ځينې نباتات سړه هوا او ځينې نور نباتات توده هوا خوښوي. بېلابېل اقليمي سيمې موږ ته د بېلابېلو نباتاتو د کښت او حاصل توليدولو، ددې لارې په هيواد کې دننه د غذايې امنيت او د يو شمېر محصولاتو د صادرولو چانس په لاس راکوي (Leao.، ۲۰۱۸).

په افغانستان کې د څارويو توليد يوه مهمه او بنسټيزه ونډه لري، چې د خلکو د ژوند د خونديتوب، د کورنيو د تغذيې د پياوړتيا او د خوراکي امنيت د ټينګښت لپاره حياتي اهميت لري. په داسې هېواد کې چې تر ۷۰ سلنې ډېر خلک په کليوالو سيمو کې ژوند کوي او مستقيم يا غيرمستقيم له کرنې سره تړلي دي، د څارويو پالنه د اقتصادي زيانونو او تغذيې له کمښت څخه د کورنيو د ژغورنې لپاره يوه مهمه وسيله ګڼل کېږي(Ahmadzai & Kaur, 2022) . د افغانستان د څارويو په سکتور کې بېلابېل ژوي شامل دي لکه غواګانې، ميږې، وزې، چرګان او اوښان، چې دا ټول د غوښې، شيدو، هګيو، وړيو او سرې په بڼه د کورنۍ د مصرف او عايد لپاره مهم ارزښت لري. دغه سرچينې نه يوازې د خوراکي اړتياوو پوره کولو کې مرسته کوي، بلکې د کرنيزو فعاليتونو لپاره هم مهم توکي برابروي په ځانګړې ډول سرې چې د کر کيلې په برخه کې مهم رول لري او دا چاره د څارويو او کرنيزو سيستمونو تر منځ متقابل تړاو لا پياوړی کوي (Devendra & Chantalakhana, 2002).

دا چې په هيواد کې زيات شمېر خلکو په کرنه او مالداري بوخت دي او په نوموړې برخه کې د زياتو ستونزو سره مخامخ دي او نوموړي کرنېز او حيواني محصولات نشي کولای د هغوی ورځنې اړتياوې پوره کړي. ځکه چې په ياده برخه کې يو شمېر بنسټيزې ستونزې شتون لري، چې د مالداري د پرمختګ پر وړاندې عمده خنډونه ګڼل کيږي، د سيداباد ولسوالۍ چې خلک يې

په کرنه او مالداري بوخت ولی د حیواناتو روزنه په همااغه عنعنوی ډول پرمخ روانه ده، په دې ولسوالی کې مالدران د زیاتو ستونزو سره مخ ده نو په هم دې موخه مو نوموړي څېړنه په نوموړي ساحه کې ترسره کړه ترڅو د مالداری وضعیت او د ستونزو حل ته لاره پیدا کړل شي.

## مواد او کړنلاره

### د څیړنې ساحه

نوموړی څېړنه د وردګ ولایت د سید آباد ولسوالی په پنځو کلیو سالارو، تره خیلو، ملی خیلو، حسن خیلو او پټان خیلو کلیو کې ترسره شویده. د احصایې ملي ادارې د راپور په اساس د سیدآباد ولسوالی نفوس په ۱۳۹۸ کال کې ۱۲۹۰۰۳ تنه اټکل کړې دي. د سید آباد ولسوالی د وردګو ولایت تر ټولو لویه او بانفوس ولسوالی شمېرل کیږی، نوموړی ولسوالی د جغتو ولسوالی، نرخ ولسوالی، چک ولسوالی، غزني او لوګر ولایتونو سره سرحد لری. نوموړی یوه کرنیزه ولسوالی ده چې د خلکو ۸۰ سلنه ژوند په کرنه پورې تړلی دي. په دې ولسوالی کې اکثره غله جات، حبوبات او سبزیجات کرل کیږی، مالداري کې یې لبنیات شامل دي چې د دغه ولسوالی بازارونو، غزني مرکز او کابل ته د خرڅلاو په موخه وړل کیږی، په دې ولسوالی کې میوه جات لکه منې، زردالو، بادام او سنځلی کیږی، دغه ولسوالی د کابل – هرات په لویه لاره پرته ده.




(۱) شکل: د وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ نقشه

څېړنیزه

آزاده لاسرسی

## ارقامو راټولول او تحلیل

ارقام او اعداد د پوښتنپاڼې پواسطه د وردګ ولایت د سید اباد ولسوالی په پنځو کلیو کې را ټول شوي دي چیرته چې خلک یې د لبنیاتو او مالداري محصولاتو د تولید سره سروکار لری، نوموړی پوښتنپاڼه د مالدارنو او د لبنیاتو د تولیدی کارکوونکو سره د مخامخ مرکې له لارې ترسره شوي ده، څرنګه چې د نوموړې ساحې دقیق نفوس نامعلوم وو د کوکران فورمول څخه په استفادې سره باید ۳۸۴ کسان د مرکې لپاره غوره کړل شوي وای ولی د وخت او امکاناتو د محدودیت له امله یوازی ۱۶۰ کسان په تصادفی ډول غوره کړل شول او مرکه ورسره شوي ده. ارقام لومړی په ایکسل کې ځای پر ځای کړل شوي دي او بیا وروسته د Statistical Package for Social Science (SPSS) version 24 پواسطه تحلیل کړل شوي دي.

## پایلې او بحث

### ۱ - د څیړنې د برخه اخیستونکو عمومی معلومات

د وردګ ولایت په سید آباد ولسوالی کې د مالداری د وضعیت ارزونه د ۱۶۰ کسانو څخه د پوښتنپاڼې پواسطه ترسره شویده پایلې په لاندې جدولونو کې ذکر شوي دي. د نوموړې څیړنې پایلو ته په کتو سره د ګډون کوونکو یو زیات تعداد د سالار په کلی پورې تړاو لری چې ۴۲ کسانو د مختلفو کورنیو اړوند سره مرکه شویده چې د هغوی د کورنی د غړو تعداد ۴۵۷ او په منځنی کچه هره کورنی کې ۱۰.۸ غړیو شتون درلوده. همدارنګه د نورو کلیو د پوښتل شویو کورنیو تعداد تقریباً سره مساوی دی. همدارنګه تر ټولو زیات میاشتنې عاید هم د سالارو د کلی اړوند دي چې په منځنی کچه ۲۵۵۰۰ افغانی دی.

څېړنیزه

آزاده لاسرسی

**(۱) جدول: د ځیرنې د ګډون کوونکو کورنیو ځانګړتیاوي (تعداد=۱٦۰)**

| کلی | د برخه اخستونکو کورنیو تعداد | د برخه اخستونکو کورنیو د غړو تعداد | | میاشتنې عاید | | میاشتنې مصرف | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | تعداد | تعداد | اوسط | مقدار | اوسط | مقدار | اوسط |
| سالار | ۴۲ | ۴۵۷ | ۱۰.۸ | ۱۰۷۱۰۰۰ | ۲۵۵۰۰ | ٦۵۳۰۰۰ | ۱۵۵۴۷ |
| تره خیل | ۳۰ | ۳۷٦ | ۱۲.۵۸ | ٦۴۴۵۰۰ | ۲۱۴۸۳ | ۵۴۵۰۰۰ | ۱۸۱٦٦ |
| ملی خیل | ۳۰ | ۳۴۵ | ۱۱.۸۱ | ۵۵۳۰۰۰ | ۱۹۰٦۸ | ۵۳۹۰۰۰ | ۱۸۵۸٦ |
| حسن خیل | ۳۰ | ۳۱۰ | ۱۰ | ۴۵۸۰۰۰ | ۱۵۲٦٦ | ۳۸۸۰۰۰ | ۱۲۹۳۳ |
| پټان خیل | ۲۸ | ۳۲٦ | ۱۱.٦۴ | ٦۷۱۰۰۰ | ۲۳۹٦۴ | ۴۲۵۰۰۰ | ۱۵۱۷۸ |
| ټولیزه منځنۍ کچه | | | ۱۱.۴ | | ۲۱۰۵٦ | | ۱٦۰۸۲ |

**سرچینه: د سید آباد ولسوالي د مالدارنو څخه راټول شوی ارقام، کال (۱۴۰۲)**

د څیړنې پایلو ته په کتو سره په ټولیز ډول د یوې کورنۍ د غړو منځنۍ کچه ۱۱.۴ تنه ده، همدارنګه د هغوی میاشتنې عاید منځنۍ کچه ۲۱۰۵٦ افغانی دي پداسی حال کې چې د کورنۍ میاشتنې مصارف ۱٦۰۸۲ افغانی دي، چې د دې ترمنځ په ډیره لږه کچه تفاوت وجود لری، د نوموړی سیمې خلک اړ دي چې د کرنې او مالداري ترڅنګ نور کارونه ترسره کړي ترڅو پورې خپلې ورځنې چارې پرمخ یوسی، کرنه او مالداري نشي کولای د دوی ورځنې اړتیاوي پوره کړي څکه کرنه په عنعنوی شکل سره ده او ترڅنګ یې محصولات یو غوره بازار هم نلری.

څېړنیزه

آزاده لاسرسی

**(۲)جدول: د ځیرنې د ګډون کوونکو شخصی ځانګړتیاوي (تعداد=۱٦۰)**

| کلي | عمر | | زده کړې | | مدني حالت | | عاید سرچینه | | مالداری تجربه (کال) | | ځمکې اندازه (جریب) | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | کلونو تعداد | اوسط | باسودا | بی سواد | متاهل | مجرد | کرنه او مالداري | نور | مجموعه | اوسط | مجموعه | اوسط |
| سالار | ۱٦۸۰ | ۴۰.۱۱ | ۲۰ | ۲۲ | ۳۵ | ۷ | ۲۱ | ۲۱ | ٦۰۴ | ۱۴.۳۸ | ۱۳۳.۵ | ۳.۱۷ |
| تره خیل | ۱۰۳٦ | ۳۴.۵۳ | ۲۷ | ۳ | ۱٦ | ۱۴ | ۱۴ | ۱٦ | ۲۷۳ | ۹.۱ | ۱۰۵ | ۳.۴۸ |
| ملی | ۸۴۸ | ۲۹.۲۴ | ۲۱ | ۷ | ۱۳ | ۱٦ | ۱۴ | ۱۴ | ۳۴۱ | ۱۱.۷۵ | ۸۳ | ۲.۸٦ |
| حسن | ۱۰۵٦ | ۳۵.۲ | ۲۰ | ۱۰ | ۲۳ | ۷ | ۱٦ | ۱۴ | ۳۷۲ | ۱۲.٦ | ۱۰۱ | ۳.۳٦ |
| پیتان | ۱۱۰۰ | ۳۹.۲۸ | ۱۲ | ۱٦ | ۲۱ | ۷ | ۱۰ | ۱۸ | ۳۹۹ | ۱۴.۲۵ | ۱۱۵ | ۴.۰۸۹ |

سرچینه: د سید آباد ولسوالی د مالدارنو څخه راټول شوي ارقام، کال (۱۴۰۲)

د (۲) جدول ارقامو ته په کتو سره تر ټولو ډیر عمر لرونکي کسان د سالارو دي په منځنی کچه ۴۰.۱۱ کلن او همدارنګه تر ټولو زیات باسواد د پیتان خیلو د کلی دي په منځنی کچه ۲۷ تنه او ډیر بی سواد بیا د سالارو په کلی پوري تړاو لري ۲۲ تنه دی. او همدارنګه ددغه کلیو اکثریت کسان د کرني او مالداری ترڅنګ په نورو کارونو مشغول دی. او تر ټولو زیاته د مالداری تجربه

څېړنيزه آزاده لاسرسي

د سالارو خلک لرى ۱۴.۳۸ کاله او تر ټولو زياته څمکه بيا د پټان خيلو خلک لرى چې په اوسط ډول هره کورنۍ ۴.۰۸۹ جريبه ده، په ټوليز ډول په پنځو کليو کې ۳.۳۹ جريبه څمکه هره کورنۍ لرى چې نوموړې اندازه څمکه نشي کولای د دوي ورځنې اړتياوي پوره کړي لکه څرنګه چې په لومړي جدول کې هم ورته اشاره شوي ده. د نوموړی څېړنې پايلو ته په کتو سره اکثريت متاهل کسان د مالدارى په کاروبار باندى اخته وو د Kamal او همکارانو (۲۰۲۱) څېړنه چې د غزنى ولايت په مالستان ولسوالى کې په ښځينه مالدارنو باندې سرته رسيدلى ښکاره کوي چې ۷٦.۷ سلنه ښځې د حيواناتو د رزونې په برخه کې مصروف دي او همدارنګه ۳۵.۸ سلنه تر ۱۵ کالو زيات په دې برخه کې کارى تجربه لرى چې د اوسنې څېړنې سره چې په نارينه کسانو ترسره شويده نيږدى والى لرى.

## ۲ - د څېړنې د برخه اخيستونکو مالدارنو د څارويو تعداد

د (۳) جدول ارقام د سيد آباد ولسوالى اړوند په پنځو کليو کې د ۱٦۰ تنو برخه اخيستونکو د څارويو تعداد ښکاره کوى، چې په دې کې د ۱۴۰۰ تر ۱۴۰۲ کلونو پورې. د هر کلى د برخه اخستونکو د غواګانو تعداد ښودل شوي دي په ۱۴۰۱ کال کې د سالارو د کلى د غواګانو تعداد ٦۳، د تره خيلو ۱۴۰۲ کې ٦۲، ملى خيلو په ۱۴۰۱ کې ۴۱، حسن خيلو ۱۴۰۱ کې ۳۷ او د پټان خيلو په ۱۴۰۰ کال کې ۳۸ ښودل شوي دي.

**(۳)جدول: په څېړنه کې د برخه اخيستونکى مالدارانو د څارويو تعداد (تعداد=۱٦۰)**

| ګڼه | حيواناتو نوع | ۱۴۰۰ کال | | ۱۴۰۱ کال | | ۱۴۰۲ کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مجموعى | اوسط | مجموعى | اوسط | مجموعى | اوسط |
| ۱ | غواګانې | ٦۳ | ۱.۵ | ٦۰ | ۱.۴۲ | ۵۸ | ۱.۳۸ |
| ۲ | پسونه | ۵۴ | ۱.۲۸ | ۸۴ | ۲ | ۸٦ | ۲.۰۴۷ |
| ۳ | وزې | ۲ | ۰.۰۴۷ | ٦ | ۰.۱۴ | ٦ | ۰.۱۴ |
| ۴ | مرکب | ۱۹ | ۰.۴۵ | ۱۹ | ۰.۴۵ | ۱۹ | ۰.۴۵ |

(سالار header spans the year columns)

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۵ | چرګان | ۴۰۶ | ۹.۶۶ | ۴۰۲ | ۹.۵۷ | ۵۵۱ | ۱۳.۱۱ |
| ۶ | فیل مرغان | ۹ | ۰.۲۱ | ۹ | ۰.۲۱ | ۱۱ | ۰.۲۶ |

**تره خیل**

| ګڼه | حیواناتو نوع | ۱۴۰۰ کال | | ۱۴۰۱ کال | | ۱۴۰۲ کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط |
| ۱ | غواګاني | ۵۳ | ۱.۷۰ | ۵۵ | ۱.۷۷ | ۶۲ | ۲ |
| ۲ | پسونه | ۴۵ | ۱.۴۵ | ۴۲ | ۱.۳۵ | ۵۱ | ۱.۶۴ |
| ۳ | وزې | ۱ | ۰.۰۳۲ | ۳ | ۰.۰۹۶ | ۱ | ۰.۰۳۲ |
| ۴ | مرکب | ۴ | ۰.۱۲ | ۴ | ۰.۱۲ | ۳ | ۰.۰۹۶ |
| ۵ | چرګان | ۱۹۴ | ۶.۴۶ | ۱۷۳ | ۵.۷۶ | ۱۹۴ | ۶.۴۶ |
| ۶ | فیل مرغان | ۴ | ۰.۱۴ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

**ملي خیل**

| ګڼه | حیواناتو نوع | ۱۴۰۰ کال | | ۱۴۰۱ کال | | ۱۴۰۲ کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط |
| ۱ | غواګاني | ۴۱ | ۱.۴۱ | ۳۶ | ۱.۲۴ | ۳۵ | ۱.۲۰ |
| ۲ | پسونه | ۲۰ | ۰.۶۸ | ۳۳ | ۱.۱۳ | ۲۹ | ۱ |
| ۳ | وزې | ۱۹ | ۰.۶۵ | ۱۱ | ۰.۳۷ | ۱۰ | ۰.۳۴ |
| ۴ | مرکب | ۴ | ۰.۱۳ | ۴ | ۰.۱۳ | ۴ | ۰.۱۳ |
| ۵ | چرګان | ۱۹۴ | ۶.۶۸ | ۱۹۸ | ۶.۸۲ | ۲۱۸ | ۷.۵۱ |
| ۶ | فیل مرغان | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

**حسن خیل**

| ګڼه | حیواناتو نوع | ۱۴۰۰ کال | | ۱۴۰۱ کال | | ۱۴۰۲ کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط |
| ۱ | غواګاني | ۳۴ | ۱.۱۳ | ۳۷ | ۱.۳۷ | ۳۴ | ۱.۱۳ |
| ۲ | پسونه | ۴۵ | ۱.۵ | ۶۰ | ۲ | ۶۶ | ۲.۲ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳ | وزې | ۱٦ | ۰.۵۳ | ۲۱ | ۰.۷ | ۱۴ | ۰.۴٦ |
| ۴ | مرکب | ۱۰ | ۰.۳۳ | ۷ | ۰.۲۳ | ۷ | ۰.۲۳ |
| ۵ | چرگان | ۱۲۵ | ۴.۱٦ | ۱۳۰ | ۴.۳۳ | ۱۸۰ | ٦ |
| ٦ | فیل مرغان | ۸ | ۰.۲٦ | ۲ | ۰.۰٦ | ۱۳ | ۰.۴۳ |

**پټان خیل**

| گڼه | حیواناتو نوع | ۱۴۰۰ کال | | ۱۴۰۱ کال | | ۱۴۰۲ کال | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط | مجموعی | اوسط |
| ۱ | غواګانې | ۳۸ | ۱.۳۵ | ۳۳ | ۱.۱۷ | ۳۳ | ۱.۱۷ |
| ۲ | پسونه | ٦۵ | ۲.۳۲ | ۵۴ | ۱.۹۲ | ۵۳ | ۱.۸۹ |
| ۳ | وزې | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۳ | ۰.۱۰ |
| ۴ | مرکب | ۳ | ۰.۱۰ | ۲ | ۰.۰۷ | ۲ | ۰.۰۷ |
| ۵ | چرگان | ۱۷۵ | ٦.۲۵ | ۹۸ | ۷.۰۷ | ۲۳۴ | ۸.۳۵ |
| ٦ | فیل مرغان | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ |

سرچینه: د سید آباد ولسوالی د مالدارنو څخه راټول شوي ارقام، کال (۱۴۰۲)

پورتني ارقام چې د وردګ ولایت د سید اباد ولسوالی د پنځو کلیو د ۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲ کلونو د مختلفو څارویو تعداد ښکاره کوی چې په دې کې د ٦ ډولو حیواناتو د الوتونکو په شمول ارقام ذکر کړل شوي دی، پورتنیو څارویو ترڅنګ په دې څېړنه کې د ځینې نورو څارویو لکه مرغاویو او قازونو په اړوند هم سروی شوي وه ولی په هیڅ یو کلی کې هیڅ یو ګډون کوونکی پواسطه نه رزول کیدل د دې تر څنګ د فیلمرغانو روزنه په ډیر لږ شمیر سره وجود درلوده. لکه څرنګه چې په دې څېړنه کې ډیری مالداران غواګانې روزي د چرخي او همکارانو (۲۰۲۴) څېړني په بنسټ چې د لوګر ولایت په برکی برک، محمد اغه او پل علم کې سرته رسیدلی ښکاره کوی چې نوموړی ساحو کې ۳٦ سلنه غواګانې د هولستین نسل، ۵ سلنه د براون سویس، ۲۲ سلنه قندهاری نسل، ۷ سلنه کنړی نسل او ۱۱ سلنه دوه رګه نسل (قندهاری* کنړی) روزل کیدل چې د هري کورنی په سطحه ۸ راس حیوانات رسیری، ولی د لوګر ولایت تر څنګ وردګو په ولایت کې ٦۲.۵٦ سلنه وطنی نسلونه، ۲۸.۳۱ سلنه خارجي او ۱۷.۰٦ دوه رګه نسلونه روزل کیدل (Omari, 2014).

څېړنیزه

آزاده لاسرسی

**۳- د حیوانی محصولاتو د تولید او خرڅلاو اندازه**

د سید آباد ولسوالی اړوند په پنځو کلیو کې د حیوانی محصولاتو د تولید او خرڅلاو اندازه په ډالرو، افغانیو او کلدارو (۱۴۰۲ کال حمل میاشتی نرخ) سره په لاندې جدولونو کی ښودل شویده. په نوموړو کلیو کې د حیواني محصولاتو له جملې شیدې، غوایې غوښې، چرگ غوښې، هگۍ، کشمېره (وزو پت)، وړۍ او پوستکی اړوند تولید او د خرڅلاو قیمتونه را اخستل شوي دي، چې دلته د بیلگې په ډول یوازې د سالارو کلی را اخلو ځکه په ټولو کلیو کې تولید او خرڅلاو تقریباً سره ورته وو، ولی یوه ستونزه په ټولو کلیو کې موجوده وه چې هغه د پوستکو، وړیو او کشمیرې تولید او خرڅلاو اړوند ارقام موجود نه وو، نوموړی دری واړه حیواني فرعی محصولات ډیر زیات ارزښت لرونکی دی که چیرته په ښه ډول سره پروسس کړل شي مالدارنو ته زیاته گټه رسوی، په دې برخه کې د هالنډ کمیټه (DCA) په یو شمېر ولایتونو کې پروژې لری، که چیرته د کشمیرې تولید ته وگورو افغانستان په نړۍ کې د چین او منگولیا وروسته دریم لوی تولیدونکی هیواد او یوه کیلو کشمیره په ډیر لوړ قیمت په نړیوال بازرا کې خرڅیږي او باارزښته ټوکران ورڅخه جوړیږی. ولی د افغانستان کشمیره نیوزیلنډ او نورو هیوادونو ته د ایران په نامه خرڅیږي، په افغانستان کې د ۲۰۱۹ کال کې ۶۸۹ ټنه، په ۲۰۲۰ کال کې ۵۵۱ ټنه او همدارنگه په ۲۰۲۱ کال کې ۸۱۴ ټنه کشمیره تولید شویده چې تر ټولو زیات په ۲۰۲۱ کال کې ده. د څیړنو په بنسټ یواځی ۳۰ سلنه مالدران د وزو څخه کشمیره لاسته راوړی او اکثره یې د نورو محصولاتو لکه غوښې او شیدو د تولید په موخه وزې روزی، دا پداسی حال کې ده چې په افغانستان کې د ۹۰-۹۵ سلنه وزې د دې وړتیا لري چې کشمیره تولید کړی.

د افغانستان د ۲۰۲۱ احصائیوي کلنی په بنسټ په ۲۰۲۱ کال کې ٦۹٦٦ زره ډالر په ارزښت کشمیره تولید شویده چې نوموړی ارزښت نسبت پخوانیو کلونو ته په لوړه کچه ده (NSIA، ۲۰۲۱).

څېړنیزه

آزاده لاسرسی

**(۴)جدول: د وردگو ولایت د سید آباد ولسوالی اړوند سار کلی د حیوانی محصولاتو د دریو کلونو د تولید او خرڅلاو اندازه (تعداد=۱۶۰)**

| گڼه | کلونه | حیواني محصولات | تولید (کیلو گرام) | | خرڅلاو (کیلو گرام) افغانی | | ډالر | | کلداری | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | تولید | اوسط | تولید | اوسط | تولید | اوسط | تولید | اوسط |
| ۱ | | شیدې | ۴۴۳ | ۷.۰۳۱ | ۱۵۴۹۰ | ۳۶۸.۸۰ | ۱۶۷.۲۳ | ۳.۹۸ | ۴۹۲۳۰ | ۱۱۷۲ |
| ۲ | | غوایي غوښه | ۵۳۶۴ | ۱۲۷.۷۱ | ۱۷۴۹۲۰ | ۴۱۶۴۸ | ۲۲۱۱۶ | ۵۲۶.۵۷ | ۳۹۵۹۱۶۲ | ۹۴۲۶۵ |
| ۳ | ۱۴۰۰ | پسه غوښه | ۲۲۵۸ | ۵۳.۷۶ | ۸۹۱۸۰۰ | ۲۱۲۳۳ | ۱۷۳۵۹ | ۴۱۳.۳۰ | ۳۰۱۹۱۳۰ | ۷۱۸۸۴ |
| ۴ | | چرگ غوښه | ۳۶ | ۰.۸۵ | ۷۲۰۰ | ۱۷۱.۴ | ۷۹ | ۱.۸۸ | ۱۳۷۳۰ | ۳۲۶ |
| ۵ | | هګۍ (دانه) | ۳۱۰ | ۷.۳۸ | ۳۱۰۰ | ۳۷.۷۳ | ۶۷ | ۱.۵۹ | ۶۰.۵۸ | ۱۴۴ |
| ۱ | ۱۴۰۱ | شیدې | ۴۴۶ | ۷.۴۳ | ۱۵۶۷۵ | ۳۷۳.۲۱ | ۲۷۲ | ۴.۰۸ | ۴۴۰.۹۱ | ۱۰۴۹ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲ | | غوایي غوښنه | ۴۳۶۷ | ۱۰۳.۹۷ | ۱۵۳۹۸۹۰ | ۳۶۶۶۴ | ۱۷۵۰۶ | ۴۱۶.۸۰ | ۴۲۵۹۱۶۱ | ۱۰۱۴۰۸ |
| ۳ | | پسه غوښنه | ۶۴۳۵ | ۱۵۳.۲۱ | ۱۷۹۵۷۰۰ | ۴۲۷۵۴ | ۶۴۶۷۶ | ۱۵۳۹.۹۰ | ۴۷۴۵۲۰ | ۱۱۲۱۲ |
| ۴ | | چرګ غوښنه | ۴۰ | ۰.۹۵ | ۸۰۰۰ | ۱۹۰.۴۷ | ۸۷ | ۲.۰۷ | ۲۲۲۲۲ | ۵۲۹ |
| ۵ | | هګۍ (دانه) | ۳۲۷ | ۷.۸ | ۳۲۷۰ | ۷۷.۸۵ | ۳۷ | ۰.۸۸ | ۹۰۰۹ | ۲۱۴ |
| ۱ | | شیدې | ۴۲۵ | ۷.۳۲ | ۱۴۹۲۲ | ۳۵۵.۲۸ | ۲۰۰ | ۴.۷۶ | ۴۹۵۰۰ | ۱۱۷۸ |
| ۲ | | غوایي غوښنه | ۳۷۴۷ | ۸۹.۲۱ | ۱۳۳۸۷۸۰ | ۳۱۸۷۵ | ۱۹۰۷۶ | ۴۵۴.۱۹ | ۴۴۸۷۴۰۳ | ۱۰۶۸۴۲ |
| ۳ | ۱۴۰۲ | پسه غوښنه | ۴۷۴۴ | ۱۱۲.۹۵ | ۱۷۸۱۶۰۰ | ۴۲۴۱۹۱ | ۲۶۰۸۱ | ۶۲۰.۹۸ | ۶۳۸۰۲۶۰ | ۱۵۱۹۱۰ |
| ۴ | | چرګ غوښنه | ۳۸ | ۰.۹۰ | ۷۶۰۰ | ۱۸۰.۸۵ | ۱۰۴ | ۲.۴۷ | ۲۱۱۱۱ | ۵۰۲ |
| ۵ | | هګۍ (دانه) | ۶۲۸ | ۱۴.۹۵ | ۴۶۶۰ | ۱۱۰.۹ | ۶۱ | ۱.۴۵ | ۱۴۷۲۱ | ۳۵۰ |

څېړنیزه آزاده لاسرسی

د وردګ ولایت اړوند خلک یا مالداران له خپلوغواګانوڅخه په اوسط ډول په یو کال کي حیواني خوراکي منابعو ته په کتو سره لږ ترلږه ۹ میاشتي شیدي لاسته راوړي یعنې ډیری مالداران د کال په هغه موسمونو کي له خپلو غواګانو څخه شیدي لاسته راوړي چي په کافي اندازه غذایې موادو ته لا س رسي ولري او د ژمي یا هغه موسم کې چې مالدران د خپلو څارویو د غذایي موادو له کمښت سره مخ کیږي نو کوښښ کوي چي خپلو د شیدو غواګانو څخه غذایي موادو ته په پام سره شیدې لاسته راوړي یا هم ور څخه شیدې لاسته نه راوړي تر څو د غواګانو له ډنګریدو څخه مخنیوي وشي او غواګاني خپلي اړتیا په سمه توګه تامین کړي، نو له همدې کبله د کال په اوږدو کي یې غواګانې ۹ میاشتي د قناعت وړشیدې ورکوي. په افغانستان او ورته نورو پرمختیایي هېوادونو کې تجربوي شواهد ښيي چې د څارویو مالکیت نه یوازې د کورنیو عواید زیاتوي، بلکې د بېوزلي پر وړاندې د هغوی کمزوري هم کموي .په افغانستان کې د کوچنیو کچو شیدو او چرګانو روزونکو پروژو د کلیوالي خلکو ژوند ښه کړی او ځانګړې توګه د ښځو لپاره د دوامداره عاید سرچینه ګرځېدلې، چې دې سره د کورنیو اقتصادي وده هم ترلاسه شوې (Khail & Ahmadzai, 2022; Randolph et al., 2007). په ګاونډیو هېوادونو پاکستان او هند کې هم ورته پایلې ثبت شوې دي، چیرې چې د څارویو د پراختیا پروګرامونو د کوچنیو کروندګرو عواید متنوع کړي او بېوزلي یې کمه کړې ده(Ali & Chaudhry, 2015; Ali, 2007) .

**۴- د لبنی محصولاتو د مصرف او د خرڅلاو د بازار موجودیت**

د وردګ ولایت د سید آباد ولسوالی اړوند په پنځو کلیو کې د لبنی محصولاتو د خرڅلاو د بازار موجودیت په اړه پوښتنې ترسره کړل شوي دي چې په ټولو کلیو کې ګډون کوونکو خپل محصولات په دریو واړو کلونو کې په بازار کې خرڅ کړی دی، په دې څېړنه کې هغوی پوښتل شوي وو چې دوی خپل محصولات د کلی دننه محلی پلورنکو، کوپراتیفونو، بازار، آیس کریم تولیدونکو خرڅوی، ولی د ټولو ګډون کوونکو ځواب په اکثریت ډول په بازار کې د محصولاتو خرڅلاو وو. او د هغوی په کورونو کې په ورځنې ډول مصرفی محصولات ټول داخلی لبنی

څېړنیزه آزاده لاسرسي

محصولات ګټل کیږي. همدارنګه د Almas او Naeimi (۲۰۲۱) څېړنه په بنسټ چې د بغلان په ولایت کې سرته رسیدلې ښکاره کوي چې په کلیوالي سیمو کې د تولیدی شیدو د امکاناتو د نشتون له امله د هغوی ٦۰ سلنه شیدې په کلیو کې په مصرف رسیږی او یوازی ۴۰ سلنه یې ښارونو ته د مصرف په موخه لیږدول کیږی، په نړیواله کچه د شیدو خرڅلاو په رسمي او غیر رسمي ډول ترسره کیږی چې اکثریت په رسمي ډول د ټولنو او په ډیره لږه اندازه په غیر رسمي ډول ترسره کیږی (Moradi، ۲۰۱۴) ولې په افغانستان کې تر ډیره په غیر رسمي ډول خرڅلاو ترسره کیږی.له بلې خوا په ایران کې د حیواني محصولاتو بازار موندنه په ملي اقتصاد کې مهم او اساسي رول لوبوی ولې نوموړی بازارونه هم د کلیوالي بازارونو څخه پیروی کوی چې تر ډیره د تولیدونکو، مصرف کوونکو لپاره ستونزې رامنځته کړی دي (کبیری او برزنده، ۱۳۸۲). د اوسنی څېړنې پایلې هم ښکاره کوی چې یوازی، شیدې، چکه او مستې د کورنۍ ترځنګ په بازار کې په عنعنوی ډول خرڅیږی او کوم ثابت نرخ، اصول او مقررات په نظر کې نه نیول کیږی.

**۵ - د مالداری او لبني محصولاتو په کاروبار کې د برخه اخیستنې دلایل**

د وردګ ولایت د سیداباد ولسوالي اړوند د لبني محصولاتو په کاروبار کې د برخه اخیستنې دلایل په (۵) جدول کې ذکر شوي دي اکثریت ګډون کوونکو په ډیره کچه د کورنۍ حمایت، غذایي اړتیاوو، وخت ګټې اخیستنې په اساس ورته مخه کړی. همدارنګه کوم چا د دولتي دندې د لاسه ورکولو او نورو دلایلو په اساس یکې برخه نده اخیستی، په همدې ډول د (۵) شمیرې جدول څخه د دولتي دندې له لاسه ورکولو او نورو دلایلو برخې ایستل شوي دي.

**(۵)جدول: د مالداری او لبني محصولاتو په کاروبار کې د برخه اخیستنې دلایل(تعداد=۱٦۰)**

| برخه اخیستنې دلایل | سالار | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | لږه کچه | | ډیره کچه | | نخیر | |
| | تعداد | سلنه | تعداد | سلنه | تعداد | سلنه |
| کورنۍ حمایت | | | ۴۲ | ۱۰۰ | | |
| غذایي اړتیاوي | ۱۳ | ۳۰.۹ | ۲۹ | ٦۹.۰ | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وخت ګټه اخیستنه | ۱۲ | ۲۸.۵ | ۳۰ | ۷۱.۴ | | |
| کورنۍ دنده او بوختیاوې | ۸ | ۱۹.۰ | ۲۸ | ٦٦.٦ | ٦ | ۱۴.۲ |

**تره خیل**

| | لږه کچه | | ډېره کچه | | نخیر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **برخه اخیستنې دلایل** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** |
| کورنۍ حمایت | ۴ | ۱۳.۳ | ۲٦ | ۸٦.٦ | | |
| غذايي اړتیاوې | ۷ | ۲۳.۳ | ۲۳ | ۷٦.٦ | | |
| وخت ګټه اخیستنه | ۵ | ۱٦.٦ | ۱۹ | ٦۳.۳ | ٦ | ۲۰ |
| کورنۍ دنده او بوختیاوې | ۳ | ۱۰ | ۲۷ | ۹۰ | | |

**ملي خیل**

| | لږه کچه | | ډېره کچه | | نخیر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **برخه اخیستنې دلایل** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** |
| کورنۍ حمایت | ۸ | ۲۷.۵ | ۲۱ | ۷۲.۴ | | |
| غذايي اړتیاوې | ۱۲ | ۴۱.۳ | ۱٦ | ۵۵.۱ | ۱ | ۳.۴۴ |
| وخت ګټه اخیستنه | ۱۱ | ۳۷.۹ | ۱۸ | ٦۲.۰ | | |
| کورنۍ دنده او بوختیاوې | ۱۲ | ۴۱.۳ | ۱٦ | ۵۵.۱ | ۱ | ۳.۴۴ |

**حسن خیل**

| | لږه کچه | | ډېره کچه | | نخیر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **برخه اخیستنې دلایل** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** |
| کورنۍ حمایت | ۱۳ | ۴۳.۳ | ۱۷ | ۵٦.٦ | | |
| غذايي اړتیاوې | ۱۱ | ۳٦.٦ | ۱۹ | ٦۳.۳ | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| وخت ګټه اخیستنه | ۵ | ۱٦.٦ | ۲۵ | ۸۳.۳ | | |
| کورنۍ دنده او بوختیاوي | ۹ | ۳۰.۰ | ۲۱ | ۷۰.۰ | | |

**پېټانخیل**

| | لږه کچه | | ډېره کچه | | نخیر | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **برخه اخیستنې دلایل** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** | **تعداد** | **سلنه** |
| کورنۍ حمایت | ۱ | ۳.۵۷ | ۲٦ | ۹۲.۸ | ۱ | ۳.۵۷ |
| غذایي اړتیاوي | ۱۲ | ۴۲.۸ | ۱٦ | ۵۷.۱ | | |
| وخت ګټه اخیستنه | ۱۰ | ۳.۵۷ | ۱۸ | ٦۴.۲ | | |
| کورنۍ دنده او بوختیاوي | ۴ | ۱۴.۲ | ۲۲ | ۷۸.۵ | ۲ | ۷.۱۴ |

په وردګ ولایت کې هم د نورو ولایتونو په شان د حیواناتو د روزنې په برخه کې ګڼ شمیر ستونزې شتون لري چې ډېر مالداران د مالدارۍ په اړه د فني معلوماتو له نشتوالي څخه سر ټکوي ځکه د وردګ ولایت اکثره وګړي یوه یا دوه غواګانې لري او په دودیزه ډول یې د خپلو نورو دندو ترڅنګ روزي او د خپلې کورنۍ د لبني محصولاتو د اړتیا پوره کولو لپاره ترینه ګټه اخلي.

## پایله

د دې څېړنې موندنې څرګندوي چې د وردګ ولایت په سیدآباد ولسوالۍ کې مالداري د کلیوالي معیشت او غذایي امنیت یوه مهمه ستنه ده، خو د تولید، مدیریت او بازار موندنې له پلوه لا هم په دودیز چوکاټ کې پاتې ده. د سروې پایلې ښيي چې د څېړنې له نمونې څخه تر ۸۰ سلنه زیاتې کورنۍ په مستقیم یا غیرمستقیم ډول په مالدارۍ بوختې دي، خو د محدودو منابعو، ټیټې تخنیکي پوهې او د حیواني روغتیا د خدماتو د کمزوري لاسرسي له امله یې تولیدي کچه ټیټه ده.

څېړنیزه آزاده لاسرسی

پایلې همدارنګه څرګندوي چې غواګانې او چرګان د سیمې د څارویو اساسي برخه جوړوي او شیدې، غوښه او هګۍ د حیواني محصولاتو مهم تولیدات دي؛ خو د لبنیاتو د پروسس، ساتنې او معیاري بازار موندنې د نشتوالي له امله د مالدارانو اقتصادي ګټه محدوده پاتې شوې ده. د څېړنې له مخې، فرعي حیواني محصولات لکه وړۍ او پوستکي یا خو په کمه کچه تولیدېږي او یا يې اقتصادي ارزښت په اغېزمن ډول نه کارول کېږي.

په ټولیز ډول، څېړنه دې پایلې ته رسېږي چې د مسلکي روزنې پیاوړتیا، د حیواني روغتیایي خدمتونو پراختیا، د لبنیاتو د پروسس اسانتیاوو رامنځته کول او د بازار موندنې د منظم سیستم ایجاد کول کولای شي د سیدآباد ولسوالۍ د مالدارۍ سکتور د تولیدي وړتیا لوړولو، د مالدارانو د عاید زیاتولو او د کلیوالي اقتصاد د پایښت په برخه کې اغېزمن رول ولوبوي.

## وړاندیزونه

۱. د مالداري سکتور د پرمختګ لپاره د مالدارنو مسلکي روزنه ترسره کول.

۲. د حیواني محصولاتو د پروسس، ذخیرې په برخه کې د کارخانو فعالول او مالدارنو ته کاري زمینه برابرول.

۳. خصوصی سکتور باید د مالداري وضعیت د پرمختګ لپاره پانګه اچونه وکړي ترڅو د دې ولایت خلکو د عاید کچه ورسره لوړه شي.

## اخځلیکونه

چرخی, وحیدالله, جویان, احمدالله, احمدی, محمد سردار, ... او هژیر. (۲۰۲٤). بررسی وضعیت تولید و بازاریابی شیر و فرآورده‌های لبنی گاوهای شیری در استان لوگر-افغانستان. *نشریه پژوهش در نشخوار کنندگان, ۱۲* (۳), ۳۹-۵٦.

څېړنيزه

آزاده لاسرسی

کبیری، احمد و برزنده، محمد، (۱۳۸۲)، رویکرد جدید بخش کشاورزی ایران در اصلاح ساختار بازار (مطالعه موردی: راه اندازی بورس کالای کشاورزی در ایران)، همایش کشاورزی و توسعه ملی، کشاورزی و متغیرهای اقتصادی کلان، تهران، ۵۹۸-۶۲۱.

Ahmadzai, M. Y., & Kaur, G. (2022). A comparative study on growth of agriculture sector: A case of Afghanistan. *Brazilian Journal of Poultry Science*, *24*(2), 1-8.

Ali, J. (2007). Livestock sector development and implications for rural poverty alleviation in India. Livestock Research for Rural Development, 19(2). http://www.lrrd.org/lrrd19/2/ali19027.htmlrrd.org

Ali, S., & Chaudhry, I. S. (2015). An empirical analysis of poverty alleviation through livestock development in Pakistan. Dialogue (Pakistan), 10(2).

Devendra, C., & Chantalakhana, C. (2002). Animals, poor people and food insecurity: opportunities for improved livelihoods through efficient natural resource management. *Outlook on Agriculture*, *31*(3), 161-175.

Sarhadi, W. A., Samadi, A. F., Kim, T .(۲۰۱۴) .Sustainable Agricultural Development in Afghanistan .*Journal of Developments in Sustainable Agriculture*.۴۱-۴۶ ,(۱) ۹ ,

Leao, I., Ahmed, M & ,.Kar, A .(۲۰۱۸) .Jobs from agriculture in Afghanistan . *International development in focus*.

Moradi., A.G. (2014.) Development and discovery of cattle breeding in rural areas and its effects on food security. Scientific Journal of Kabul University. 3(2): 198-205. (In persian).

Kamal R, Samim S, Omari H, Rezaie S. Evaluation women's participation in livestock management activities (a case study in the rural area of malistan district, Ghazni province, Afghanistan). Aca J Res Sci Publication. 2022; 4(44):16-30.

Khail, M. H., & Ahmadzai, K. M. (2022). The participation of rural Afghan women in small-scale dairy farming. International Journal of Innovative Research and Scientific Studies, 5(2), 59–66. https://doi.org/10.53894/ijirss.v5i2.300.

څېړنیزه آزاده لاسرسی

National Statistics and information Authority (2021). *Afghanistan statistical yearbook*; NSIA: Kabul, Afghanistan.

Naeimi, M. & Almas, M. M. (2021). A prospective overview of animal husbandry, milk production, consumption and its marketing in Baghlan province; Afghanistan. International Journal of Innovative Science and Research Technology. 6(7): 379-386. Herber C, Bogler L, Subramanian SV, Vollmer S. Association between milk consumption and child growth for children aged 6–59 months. Sci Rep. 2020;10(1):2–10.

Randolph, T. F., Schelling, E., Grace, D., Nicholson, C. F., Leroy, J. L., Cole, D. C., Demment, M. W., Omore, A., Zinsstag, J., & Ruel, M. (2007). Invited review: Role of livestock in human nutrition and health for poverty reduction in developing countries. Journal of Animal Science, 85(11), 2788–2800. https://doi.org/10.2527/jas.2007-0467ILRI+1ResearchGate+1